WWW.CSRSKABUL.COM

مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** ٥٦ (از ١٤ الی ٢١ جدی ١٣٩٢ هـ ش)

این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.

---

## آنچه درین نشریه می‌خوانید:

### ١ – د سولې لپاره د سولې عالي شورا او بې لاسته راوړنو بهیر!

- **خو د سولې لپاره د دولت د وسله والو مخالفینو چمتو کېدل، هغه هم په داسې توګه چې هغوی یې د تسلیمېدلو په معنا بولي، یوازې د وخت تېرول دي؛ ځکه د روغې جوړې لپاره باید په لوړه کچه کار وشي، او کوم فعالیتونه چې د سولې عالي شورا یې لري، لکه په ولایتونو کې د دغې شورا کومېټې، چې وخت ناوخت د لسګونو طالب جنګیالیو د تسلیمېدلو خبرونه ورکوي، د یوې ډرامې بڼه لري؛ ځکه د سولې له شورا سره د طالب جنګیالیو د یو ځای کېدلو د بهیر په اړه خو هم ډېر څه برملا شول او له ډېرو لورو دا نیوکې وشوې، چې دا د طالب سازۍ پروسه ده، چې له امله یې په دې وروستیو کې د سولې له بهیر سره د یو ځای کېدلو دا لړۍ پکه شوې هم ده.**

## ۲ – شورای صلح به سوی ترکستان!

- حکومت افغانستان و شورای عالی صلح همیشه مرتکب این اشتباه شده اند که در فرایند صلح افغانستان نقش چرب‌تری به پاکستان قایل شده اند، در حالی که پاکستان خود جهت بهره گیری سیاسی دنبال این امتیازات بود، چیزی که رایگان از جانب حکومت افغانستان برایش میسر است.

## ۳ – افغانستان؛ او په ۲۰۱٤ کې د سپیني ماڼی سخته دوسیه

- امریکایان په لنډو سره دا قضاوت هم کوي، چې وګورئ د جورج ډبلیو بوش د ولسمشرۍ پر مهال ۶۳۰ امریکایي پوځیان د افغانستان په جګړه کې په دغه هېواد کې وژل شوي وو؛ خو د اوباما د ولسمشرۍ پر مهال ۱۶۷۱ تنه پوځیان وژل شوي او د جګړې برخلیک مالوم نه دی، حتی د امریکایانو لپاره دا جګړه ګونګه ده، چې ولې دوی په دې جګړه کې تلفات او زیانونه ګالي او دا د جګړې د یوه مخالف ولسمشر باراک اوباما لپاره څکه ګرانه برېښي، چې په همدې دومره مخالفتونو کې یې پرېکړه کړې، چې دا جګړه لس کاله نوره هم وغځوي.

## ٤ – زندان و زندانیان بگرام، قربانی سیاست‌های منفور از کابل الی واشنگتن!

- حال که یکبار دیگر اختلاف نظر بین ارگ کابل و قصر سفید واشنگتن در رابطه با زندان و زندانیان بگرام برملا شده، مشاهده می شود که عدۀ زیادی از اطرافیان نزدیک رئیس جمهور کرزی، به عوض حمایت از موقف وی، بیشتر به تأیید و حمایت از نظریات امریکا و امریکایی‌ها در این عرصه می‌پردازند.

## بخش صلح و تفاهم:

## د سولې لپاره سولې عالي شورا او بې لاسته راوړنو بهیر!

حکمت الله څلاند

د سولې عالي شورا، چې د افغانستان د حکومت له خوا کابو درې کاله مخکې د یوې راغوښتل شوې لويې جرګې د پرېکړې په پایله کې جوړه شوه، په تېرو کلونو کې یې ګڼ شمېر بهرني سفرونه او نور فعالیتونه درلودلي دي؛ خو په دې لاره کې تر اوسه هم کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه لیدل کېږي.

د دغې شورا یوه پلاوي په دې وروستیو کې سعودي عربستان ته، د اسلامي کنفرانس یا (او آی سي) په غونډه کې د ګډون په موخه، چې د دوی په وینا اصلي موضوع یې په افغانستان کې د سولې موضوع وه، یو سفر درلود، چې بیا یې هم لاسته راوړنې د دغه ګونګ بهیر د پخوانیو سفرونو او فعالیتونو په شان، یوازې د ژمنو ترلاسه کول دي.

د سولې د عالي شورا ویاند مولوي شهزاده شاهد د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو له مرکز سره، په یوه ځانګړې مرکه کې دغه سفر ګټور بولي او وایي، چې هلته یو شمېر ملاقاتونه او ژمنې ورسره شوې دي.

خو په تېر کې هم د دارنګه ډېرو ژمنو او سفرونو شاهد یو، چې تر اوسه یې د اعتماد سازۍ په کچه هم لاسته راوړنه نه ده درلودلې.

نړیوالو ته هم د سولې د عالي شورا جوړښت او اغېز څرګند دی او په دې پوهېږي، چې د افغانستان سوله د افغانانو خپلمنځي مسئله ده او ترڅو چې افغانان خپله ونه غواړي، د دغې ستونزې په هوارې کې د بهرنیو هڅې هم ګټه نه لري؛ نو ځکه د دوی ژمنې هم یوازې تشریفاتي بڼه لري.

د سولې د عالي شورا وياند د دې پوښتنې په ځواب کې، چې دغه شان ژمنې تر دې مخکې هم د بېلابېلو لورو له خوا ډېرې شوې دي؛ مګر کومه رغنده پایله یې نه ده درلودلې، نو له دریو کلونو راهیسې دا راروان بهیر به په همدغو ژمنو او هیلو باندې په تکیې کولو سره څه لاسته راوړي؟ نوموړی وایي: ترڅو چې جګړه، ناامني، تاوتریخوالی، قتل او قتال او وینه تویېدنه روان وي، نو د سولې لپاره به هم هلې ځلې روانې وي، دا چې خلک داسې فکر کوي او توقعات دا دي، چې د سولې شورا ولې په یوه میاشت کې یا په شپږو میاشتو کې دا قضیه حل نه کړه؟ دا قضیه ملي، سیمه ییز او جهاني ابعاد لري او دا یو ستونزمن بهیر دی.

خو د سولې د عالي شورا وياند وايي، چې که مخالفین سولې ته چمتو کېږي او کنه، دوی به هغوی ته خپل پيغام رسوي او دا لړۍ به روانه ساتي؛ ځکه د دولت دنده ده، چې د سولې لپاره کار وکړي او له همدې امله د هېواد په دننه او بهر کې د دغې شورا پراخ فعالیت روان دی؛ نو دا چې د دوی په ادعا، له دومره پراخو فعالیتونو سره سره تر اوسه هم ولې د سولې په برخه کې کومه د پام وړ لاسته راوړنه نشته ده، دلیل یې څه دی؟

مولوي شهزاده شاهد وايي: دا ۱۲ کاله دلته ناټو او امریکا، چې پرمختللې ټکنالوژي لري، جنګېږي او بمباری کوي، چاودنې کېږي، جګړه په شدت سره روانه ده او اوربند نه دی شوی؛ بلخوا که څه هم چې یو څه مسوولیت به د سولې عالي شورا ته هم راجع کېږي؛ خو مخالیفین هم تر اوسه بین الافغاني او مخامخ خبرو اترو ته نه دي چمتو شوي، د دې تر څنګ د سولې د خبرو اترو پر وړاندې نورې ډېرې ستونزې شته دي.

مګر په داسې حال کې چې د دولت وسله وال مخالفین د سولې په اړه غوڅ دریځ لري او شرط یې یوازې له افغانستان څخه د بهرنیانو وتل دي او خپله د سولې شورا هم وايي، چې ترڅو چې جګړه روانه وي، سوله ستونزمنه ده، چې د جګړې اصلي دلیل هم د بهرنیانو شتون دی، او له بلې خوا د سولې عالي شورا وایي، چې مخالفین له حکومت او دغې شورا سره خبرې نه کوي او په یو ډول د خپلو فعالیتونو پر پایلو هم باور نه لري، نو بیا دا میلیونونه ډالره د سولې په نوم د څه لپاره مصرفېږي؟

د سولې د عالي شورا وياند وايي: موږ په دې تمه یو، چې دوی سولې ته آماده شي، ډېر علمي او سیاسي خلک چې امتیازات نه غواړي او د سولې لپاره چمتووالی ښيي، راګرځېدلي هم دي، د طالبانو د وخت ډېر مشران دلته په کابل کې دي، د سولې په عالي شورا کې دي، د هېواد په کچه هم تر لس زره زیاتو کسانو وسله پر ځمکه ایښې او سوله ییز ژوند ته راګرځېدلي دي.

خو د سولې لپاره د دولت د وسله والو مخالفینو چمتو کېدل، هغه هم په داسې توګه چې هغوی یې د تسلیمېدلو په معنا بولي، یوازې د وخت تېرول دي؛ ځکه د روغې جوړې لپاره باید په لوړه کچه کار وشي، او کوم فعالیتونه

چې د سولې عالي شورا يې لري، لکه په ولايتونو کې د دغې شورا کومېټې، چې وخت ناوخت د لسګونو طالب جنګياليو د تسليمېدلو خبرونه ورکوي، د يوې ډرامي بنه لري؛ ځکه د سولې له شورا سره د طالب جنګياليو د يو ځای کېدلو د بهير په اړه خو هم ډېر څه برملا شول او له ډېرو لورو دا نيوکې وشوې، چې دا د طالب سازۍ پروسه ده، چې له امله يې په دې وروستيو کې د سولې له بهير سره د يو ځای کېدلو دا لړۍ هم پکه شوې ده.

داسې ګونګوسې هم وې، چې سعودي ته د سولې شورا د سفر موخه کېدای شي، په دغه هېواد کې طالبانو ته د دفتر پرانېستل وي؛ خو د دغې شورا وياند وايي، چې په دغه سفر کې د دفتر خبره رسماً نه ده مطرح شوې.

که څه هم د سولې د عالي شورا وياند وايي، چې دوی د طالبانو له کوم دفتر يا ادرس سره مخالف نه دي؛ خو د قطر د دفتر له پرانېستل کېدلو وروسته وليدل شول، چې د مخالفت لومړی غږ د سولې د عالي شورا له خوا و؛ او کله چې د سولې لپاره داسې ګام اوچتېږي، چې د سولې د عالي شورا امتيازات پکې له پامه غورځول کېږي، بيا دوی هم د مخالفت په لومړۍ ليکه کې وي.

له بلې خوا د سولې عالي شورا او افغان حکومت د سولې په‌لاره کې تل په جزئي مسايلو کار کوي او داسې ښکاري چې موخه يې يوازې د دې لړۍ ژوندي ساتل وي، چې په دې لړۍ کې يوه موضوع هم د ملا برادر د راخوشي کولو ده او مولوي شهزاده شاهد د دغه طالب چارواکي د راخوشي کولو په اړه د تينګار دليل، سولې ته د نومړي حسن نيت او چمتووالی ښيي؛ خو د دغسې افرادو د حسن نيت اغېز د يوه ورته بل طالب چارواکي معتصم اغاجان له اغېز څخه معلومېدای شي.

وسله وال مخالفين د سولې له عالي شورا سره د خبرو نه کولو يو لامل هم دا وايي، چې په دغې شورا کې داسې کسان راټول شوي، چې په يو ډول نه يو ډول په حکومت کې ښکېل دي، يا د حکومت برحاله چارواکي دي؛ نو څرنګه به د سولې عالي شورا د يوه بې طرفه ارګان په توګه د سولې لپاره کار وکړای شي.

د سولې د عالي شورا وياند وايي، چې که طالبان د سولې پر ټوله شورا يا لسو شلو کسانو نيوکه لري، نو ودې وايي او دغه شورا به پر هغوی غور وکړي؛ خو دغه شورا له مخالفينو سره د سولې په خبرو کې  د حکومت د لوري په توګه بلل کېږي او وسله وال مخالفين له افغان حکومت سره د خبرو کولو دريځ نه لري؛ نو ځکه د کومې موخې لپاره چې جوړه شوې ده، بې ګټې معلومېږي.

دا چې د سولې لپاره مهمه دا ده، چې په دې لاره کې به بې طرفه کسان او لوري کار کوي، ترڅو د ښکېلو لورو باور جلب کړای شي؛ خو د سولې د عالي شورا په اوسني ډول فعاليت، د سولې لپاره کومې پايلې ته نه رسېدونکی ښکاري.

# شورای صلح به سوی ترکستان!

ذاکر جلالی، ناظر مسائل سیاسی



وزیر امور خارجه عربستان سعودی آقای سعود الفیصل در حالی به پاکستان سفر می‌کند که محاکمه‌ی رئیس جمهور دیکتاتور آن کشور، پرویز مشریف جریان دارد. فیصل که در چندین سال بلندترین مقام سعودی است که به پاکستان سفر می‌کند گمانه‌زنی‌ها را به میان آورده که شاید به‌خاطر نجات پرویز مشرف به این کشور سفر کرده باشد. در حالی‌که مقامات در وزارت خارجه پاکستان این گمانه‌زنی‌ها را رد می‌کنند و می‌افزایند که اجندای گفت‌وگو با آقای فیصل روی روابط دوجانبه و مسایل منطقوی متمرکز خواهد بود. قابل یادآوری است که ژورنالیست مشهور پاکستان، جاوید چوهدری در بحث هفته‌وارش زیر عنوان "کل‌تک" اظهار داشت که آوازه‌هایی وجود دارد که سعودالفیصل با مقاماتِ پاکستانی به این موافقه رسیده است که مشرف محاکمه خواهد شد و پس از مجرم پنداشتنش از سوی رئیس جمهور ممنون حسین بخشیده خواهد شد و سپس عازمِ عربستان سعودی و یا هم کشور دیگر خواهد شد.

در گرماگرمِ این رویدادها شورای صلح افغانستان گفته است که فیصل برای متقاعد ساختنِ پاکستان به آن کشور سفر می‌کند تا بر طالبان افغان فشار وارد کند که با حکومتِ آقای کرزی وارد گفت‌وگوهای صلح شوند. مقامات افغان و اعضای شورای صلح اکثر اوقات طوری وانمود می‌کنند که پاکستان بر طالبان افغان تأثیر دارد و می‌تواند آن‌ها را وادار به گفت‌وگوهای صلح نماید. این در حالی‌ست که سرتاج عزیز مشاور امور بین‌المللی و امنیتی نخست وزیر پاکستان ماه گذشته اظهار داشت که پاکستان طالبان را کنترول نمی‌کند و طالبان حاضر به گفت‌و گو با حکومتِ افغانستان نیستند.

از یک‌سو پیمانِ امنیتی با امریکا که امضایش به‌دور از انتظار نیست و از سوی دیگر توقع این‌که طالبان حاضر به گفت‌وگو با شورای عالی صلح شوند یک پارادوکس است. طالبان بارها اظهار داشته اند که در صورتِ حضور نیروهای خارجی در افغانستان با حکومتِ این کشور حاضر به گفت‌وگو نخواهند شد. از سوی دیگر، حزب اسلامی آقای حکمتیار که نسبت به طالبان با شرایط خیلی نرم با حکومتِ آقای کرزی وارد گفت‌وگو شد پس از سفرهای متعدد هیأت‌های این حزب به جایی نرسید.

حکومت افغانستان و شورای عالی صلح همیشه مرتکب این اشتباه شده اند که در فرایند صلح افغانستان نقش چرب‌تری به پاکستان قایل شده اند، در حالی‌که پاکستان خود جهت بهره‌گیری سیاسی دنبال این امتیازات بود، چیزی‌که رایگان از جانب حکومت افغانستان برایش میسر است.

اگر تعهد سیاسی برای صلح در نظامِ افغانستان وجود می‌داشت، یگانه آدرس معتبر طالبان افغان دفتر قطر بود که متأسفانه بسته شد. اگر حکومت عوض مخالفت با فرایند قطر از درِ تفاهم پیش‌آمد می‌کرد امروزه دست‌کم میانجی‌های افغان می‌توانستند که با طالبان در پیوند به مسایل افغانستان بحث و گفت‌وگو نمایند.

## بخش سیاسی:

# افغانستان؛ او په ۲۰۱٤ کې د سپينې مانۍ سخته دوسيه

عبدالله الهام جمالزی، د سياسي چارو شنونکی



روان ۲۰۱۴ ميلادي کال که افغانانو ته د ځينو اندېښنو، فرصتونو او ننګونو له امله ډېر مهم دی؛ د امريکا په تېره بيا د سپينې مانۍ او د دغه هېواد د ولسمشر باراک اوباما لپاره هم، تر بل هر وخت ډېر مهم کال دی او دوی هم ګڼو اندېښنو په مخه کړي دي؛ دا چې آيا دوی به ښکته سر او درنې ماتې سره له افغانستان څخه وځي؟ که به د لسو کلونو لپاره نور هم جنګېږي؟ کومه د توجيه وړ لاسته راوړنه به مومي؟ او که به يوازې د امريکايانو له دغه غبرګون سره، خو دا ځل په ټول جديت سره، مخ کيږي چې نور نو په افغانستان کې د امريکايي پوځيانو وژل ودروئ! او اوباما به په هر صورت کې له پوره فشار سره مخ وي؛ او دا چې دا پرېکړې به په همدغه کال کې کېږي، د سپينې مانۍ لپاره د افغانستان په تړاو خورا مهم کال دی.

د واشنګټن پوسټ د يوه تحليل له مخې، که له افغانستان سره د امريکا امنيتي تړون لاسليک شي، لږترلږه اووه يا اته زره امريکايي پوځيان به په افغانستان کې پاتې کېږي، چې که د دوی په وينا دا پوځيان سوريې ته واستول شي، چېرته چې د امريکا د اډو لاسرسی هم ورته آسانه دی؛ خو بيا به هم دا د يوې جګړې پيل وبلل شي او سخت غبرګون به پرې وښودل شي؛ خو په افغانستان کې د هغوی لس کلن پاتې کېدل هم له دا ډول جګړې پيلولو سره ډېر توپير نه لري، مګر سپينه مانۍ هڅه کوي، چې دا موضوع ډېره عادي وښيي.

امريکايان په لنډو سره دا قضاوت هم کوي، چې وګورئ د جورج ډبليو بوش د ولسمشرۍ پر مهال ۶۳۰ امريکايي پوځيان د افغانستان په جګړه کې په دغه هېواد کې وژل شوي وو؛ خو د اوباما د ولسمشرۍ پر مهال ۱۶۷۱ تنه پوځيان وژل شوي او د جګړې برخليک مالوم نه دی، حتی د امريکايانو لپاره دا جګړه ګونګه ده، چې ولې دوی په

دې جګړه کې تلفات او زیانونه ګالي او دا د جګړې د یوه مخالف ولسمشر باراک اوباما لپاره ځکه ګرانه بریښي، چې په همدې دومره مخالفتونو کې یې پرېکړه کړې، چې دا جګړه لس کاله نوره هم وغځوي.

په ۲۰۰۸ کال کې په عراق باندې له برید سره د اوباما مخالفت د دې لامل شو، چې په ډیموکراټ ګوند کې په خپلمنځي ټاکنو کې، د نوموړي د سیالې نوماندې هیلري کلینټن پر وړاندې بریالی شي. د عراق او افغانستان له جګړې د سترو رایه ورکوونکو ملاتړ هم هغه مهمه برخه وه، چې د ۲۰۰۹ کال په سراسري ټاکنو کې په خپل جمهوریت پال سیال جان مک کین هم بریالی شو. اوس سره له دې چې له افغانستان څخه د دوی د ماموریت بوخت پوځیان ورځ تر بلې په کمېدلو دي؛ خو احصایې همغه راز په سختۍ سره، له دغو جګړو سره د امریکایانو د مخالفت ښودنه کوي او واکمنان یې د توجیه هڅه کوي.

په ظاهره خو ټاکل شوې، چې د روان ۲۰۱۴ کال تر پایه د دوی په وینا دا ماموریت بشپړ شي؛ خو دا چې دا لړۍ به په څه ډول بشپړېږي او یا به د دوی تر وتلو وروسته څه کېږي او دوی به څه کوي، لا هم روښانه نه ده.

تر اوسه چې د امریکا او افغانستان تر منځ امنیتي تړون نه دی لاسلیک شوی، وبه کتل شي چې د لاسلیک تر مهاله یې څه پېښېږي؟ هغه څه چې ولسمشر حامد کرزی او هغه افغان لوری، چې په ژر نه لاسلیک کولو سره یې د کوم هدف په لټه کې دي، کوم ځای ته ځان رسوي او دغه راز د امریکا د متحدو ایالتونو له خوا څه کېږي؛ بله مهمه دا ده چې د ناټو او افغانستان او دغه راز د ترهګرۍ پر ضد، په اصطلاح نړیوالې ټلوالې او افغانستان تر منځ به څه کېږي؟ او دا چې د دې ټولو پایله به بالاخره څه کېږي، لاهم وخت ته اړتیا لري؛ خو که دغه تړون لاسلیک شي، بیا هم د دغه ماموریت دوام ورته ویل کېږي او په افغانستان کې به د امریکا روزونکي او مشاور پوځیان حضور لري؛ خو که دا تړون لاسلیک نه شي او په دې برخه کې بحثونه کومې پایلې ته ونه رسېږي؛ نو د اوسنیو اسنادو له مخې به، د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱ یعنې په افغانستان د برید له پیل نه، د ۱۳ کلونو په تېرېدلو سره، د امریکا پوځي ماموریت پای ومومي؛ خو په هر حال، په اوسني وخت کې یواځې دومره ویل کېدای شي، چې د اوباما لپاره په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان دوسیه له هغو دوسیو څخه ده، چې جدي او ډېر حساس کار به ترې وغواړي.

یو اس اې ټوډې ورځپاڼې په دې تړاو، د افغانستان او پاکستان په چارو کې، د اوباما ادارې د پخواني سلاکار او په جان هاپکینز پوهنتون کې، د پرمختللو نړیوالو زده کړو د پوهنځي د مشر ولي نصر له خولې لیکلي، چې د دغه څېرکي د تړل کېدلو لپاره د ډېری امریکایانو تنده به د دې لامل شي، چې که په دې برخه کې ماتې هم راشي، نو اوباما به په داخل کې له ډېر سیاسي زیان سره مخ نه کړي؛ خو اوږدمهال زیان به یې ناورین وي.

هغه وايي: دا د لارې په اوږدو کې خنډ دی، چې له کرزي سره په تړون لاسلیک کولو کې پاتې راشو، دا به په افغانستان کې د صفر آپشن (د ټولو سرتېرو ایستل) وي او افغانستان به له کورنۍ جګړې سره مخ کېږي؛ خو که افغانستان دا غوټه نه پرانیزي، موږ به بیا په هغه حالت کې وو، چې لس کاله وړاندې وو، او بیا به هغه حالت ته ورستنېږو.

خو په ټول کې داسې برېښي، چې سره له دې چې دا کال د افغانستان لپاره مهم دی، له خپلو ملي سترو پېښو رانیولې تر سیمه ییزو او نړیوالو هغو پېښو پورې، چې خپل اغېز به ولري، د امریکا او د افغان حکومت د لوېدیځ ملاتړي بلاک تر منځ، د اړیکو لپاره هم مهم کال دی، په تېره بیا امریکا او سپینې ماڼۍ ته، چې په دې کال کې به دوی د دې جګړې برخلیک روښانوي او دا هغه څه دي، چې ټول ورته سترګې په لاره دي او ټولو لورو ته فوق العاده اهمیت لري.

# زندان و زندانیان بگرام، قربانی سیاست های منفور ازکابل الی واشنگتن!

احمد ضیاء رحیمزی، تحلیلگر مسائل سیاسی



زندان بگرام وزندانیان افغان وخارجی آن، از زمانی که نیروهای امریکایی وناتو بنام مبارزه علیه آنچه آنها به زغم خود آنرا تروریزم بین المللی می‌خوانند، بگونه نامیمونی وارد خاک افغانستان شدند، قربانی این مبارزه نامیمون هستند، که طی سالیان اخیر وقتی عملکرد امریکایی‌ها حتی کاسه صبر رئیس جمهور حامد کرزی را نیز لبریز ساخت،این موضوع بیشتر در صدر اخبار رسانه های داخلی وخارجی قرار گرفت.

اگر از ابتدای این داستان تا امروز را بخواهیم مرور کنیم باید صفحات زیادی را سیاه کرد درست همان گونه که امریکایی‌ها دراین زندان با اعمال وحشیانه و ضد بشری تاریخ این زندان را سیاه رقم زدند، ولی از بحث طولانی حذر نموده فقط روی وضعیت چند روز اخیر که پس از خبر رهایی ٦٥٠ تن افغان از این زندان جهنمی در این راستا بوجود آمده، بحث می کنیم.

همان گونه که رسانه‌ها گزارش داده اند، پس از رهایی این تعداد که کمیسیون مؤظف برای بررسی دوسیه های این زندانیان، آنان را بی گناه توصیف می‌نماید، امریکایی‌ها وتعدادی از حلقات افغانی که همیشه منافع امریکا وغرب برای آنها بیشتر از منافع ملی وطن شان وهموطنان شان مهم است به واویلا پرداختند که این افراد رها شده و بیشتر از آن هم ٨٨ تن از زندانیانی که هنوز دوسیه های شان تکمیل نشده است، خیلی خطرناک اند وتهدید جدی برای امنیت افغانستان شمرده می‌شوند.

اما جالب این جاست که وقتی امریکایی‌ها از یک سو با صراحت تام اعلام می‌دارند که طالب دشمن آنها پنداشته نمی شود، دراین صورت نگاه داشتن این تعداد زندانی در بگرام وآن هم در وحشت ناک ترین حالت آن روی چه

حسابی است و از نیروهای امریکایی مستقر در افغانستان گرفته تا سناتوران جمهوری خواه آن کشور از رهایی این عده چرا دلهره ونگرانی دارند؟

از جانب دیگر قضیه رهایی زندانیان زندان موحش بگرام به فیصله کمیسیونی که از جانب رئیس جمهور کرزی توظیف شده، در زمانی که جنجال وتنش بین افغانستان وامریکا روی امضای پیمان امنیتی به اوج خود رسیده است و ارگ کابل همه روزه میزبان هیأتی از امریکا و غرب است که برای فشار آوردن یا تسهیل زمینه امضای پیمان امنیتی به کابل می‌آیند، نشان می‌دهد که هردو جانب کابل و واشنگتن از موضوع زندان وزندانیان بگرام قصد استفاده ابزاری وسیاسی را دارند.

از همه جالب تر اینکه دِ حالیکه آقای عبدالشکور دادرس مسؤول کمیسیون رسیده گی به دوسیه های زندانیان بگرام به رسانه‌ها اعلام می کند که اسناد و مدارک ارائه شده از جانب نیروهای امریکایی و ناتو به آنها در مورد خطرناک بودن ۸۸ زندانی باقیمانده دربگرام، نمی تواند مجرم بودن آنها را ثابت سا د و این تعداد نیز بزودی رها خواهند شد، اداره امنیت ملی افغانستان ادعا می کند که آنها اسناد و شواهد را به این کمیسیون ارائه نموده اند که خطرناک بودن اقلاً ۵۵ تن از این مجموعه و افراد رها شده را نشاندهی می‌نماید.

به هرترتیب، آنچه مهم است این است که اگر زندان بگرام جزئی از خاک افغانستان است (هرچند شاید به لحاظ عملی تحت سیطره دولت کنونی افغانستان نباشد) پس باید افراد دستگیرشده و زندانی شده در آنجا نیز طبق اصول و شرایط عدلی و قضایی افغانستان محاکمه شوند ولی اینکه امریکایی‌ها حتی به سویه سناتوران خود در امر رهایی چند زندانی افغان مداخله می کنند و از جانب دیگر رئیس جمهور حامد کرزی نیز با توجه به اعتراضات امریکا امر بازرسی مجدد دوسیه های آنان را صادر می کند، به وضاحت نشان می‌دهد که رئیس جمهور کرزی به هر اندازه و هر حدی که بخواهد خود را آزاد ومستقل جلوه دهد وبه هر حدی که قضیه دفاع از حاکمیت ملی افغانها را مطرح سازد، مشکل همان است که امریکایی‌ها نه به حاکمیت ملی افغانستان هیچ گونه احترامی دارند و نه هم به خواسته های وی به حیث رئیس جمهور افغانستان ارج می نهند.

موضوع تأسف بار در این راستا آن است که تیم کاری حامد کرزی در ارگ ریاست جمهوری، از کسانی تشکیل نگردیده که آقای کرزی بتواند در این راستا بر ایشان حساب کند.

بدبختانه همان گونه که در موضوع امضای پیمان امنیتی با امریکا به مشاهده رسید، از وزرای کابینه گرفته تا کاندیدا های انتخابات آینده ریاست جمهوری، همه و همه با دل و جان امضای پیمان امنیتی با امریکا را قبول داشتند و از ابراز مخالفت خود دراین راستا با حامد کرزی نیز امتناع نکردند.

حال که یکبار دیگر اختلاف نظر بین ارگ کابل و قصر سفید واشنگتن در رابطه با زندان وزندانیان بگرام برملاشده، مشاهده می‌شود که عده زیادی از اطرافیان نزدیک رئیس جمهور کرزی، به عوض حمایت از موقف وی، بیشتر به تائید وحمایت از نظریات امریکا وامریکایی‌ها در این عرصه می‌پردازند.

هرچند جای شکی نیست که رئیس جمهور حامد کرزی از قضیه زندان بگرام و زندانیان آن محل، به حیث یک برگ برنده در مخالفت هایش با امریکایی‌ها در رابطه با پیمان امنیتی و سائر زد و بندهای سیاسی و پشت پرده استفاده می‌نماید، اما نمی توان از این حقیقت روشن انکار کرد که درست به همان گونه که گذاشتن پیش شرطها در رابطه با پیمان امنیتی با امریکا ولو برای هر هدفی باشد، جزئی از خواسته‌ها و آرمان های مردم است، به همان گونه آزادی زندانیانی که سالها را بدون تثبیت هر گونه جرم، در عقب میله های زندان بگرام با همه وحشت و زیر پا شدن حقوق ابتدایی انسانی شان گذشتانده اند، خواسته و تقاضای مردم است و مردم از ایستاده گی دولتمردان در مقابل امریکا و استعمار غرب از دولت وحکومت حمایت همه جانبه به عمل خواهند آورد. پایان